دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او ای انسانه! ته نه ګوری چې الله پاک د ځمکې ټول ځیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتی هم چې د الله په حکم په بحر کې چلیږي. او اسمان یې ټینګ نیولی چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه راپرېوزي یې له شکه الله پاک په خلکو ډېر مهربان او ډېر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې یې ژوندي کړی بیا مو مړه کوي او بیا مو بیرته راژوندي کوي. رښتیا هم چې انسان ډېر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابوسعید الخدری رضی الله عنه روایت شده که گفت: از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیدم که می فرمود: هرگاه کسی از شما کار بدی را دید باید آنرا بدست خویش تغییر دهد، اگر نتوانست بزبان خود آنرا منع کند و اگر نتوانست بدل خود از آن بد ببرد و این ضعیف ترین مرحلهء ایمان است. (الحدیث)

شهادت شپږم کال، ۳۱ مه ګڼه، پرله پسې ۲۷۵ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۳ هـ ل د لړم ۱۴ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د محرم الحرام ۱۲ مه د۲۰۱۴ م د نوامبر ۵ مه

انجنیر محمدخان:

نباید حق مجاهدین ضایع گردد

معاون اول اجرائیهٔ حکومت وحدت ملی، مجاهدین را افتخار آزادی دانسته، میگوید که نباید حق مجاهدین ضایع گردد.

انجنیر محمد خان معاون اول اجرائیهٔ حکومت وحدت ملی در نشستی که صدها تن از اعضای شوراهای نواحی مختلف شهر کابل شرکت داشتند، از حکومت وحدت ملی خواست تا مجاهدین را فراموش نکرده و در حکومت جدید به آنها سهم بدهد.

وی افزود که باید به مجاهدین، قوماندانان و ورثهٔ شهدا و معلولین امتیاز داده شود.

موصوف علاوه کرد که حق و حقوق مجاهدین ضایع نگردد و نه باید فراموش شوند؛ مجاهدین هم باید در میدان سیاست دخیل شوند.

وی در مورد انتخابات ریاست جمهوری نیز گفت که ملت افغانستان ...

(ص، ۴)

دوزیرانو شورا پرېکړه: نور دځینو اشخاصو او شرکتونو له خوا دخوراکي توکو د واردولو انحصار رسمیت نه لري

کابل، رسنۍ:

دوزیرانو شورا نوبتي غونډه نن دافغانستان داسلامي جمهوریت داجراییه رییس ډاکتر عبدالله عبدالله په مشرۍ جوړه شوه.

دافغانستان داسلامي جمهوریت د اجرائیه شورا مطبوعاتي دفتر باختراژانس ته خبر ورکړ، اجراییه رییس دخبرو په ترځ کې دوزیرانو شورا دېخواني غونډې د مصوبو په تعقیبولو باندې ټینګار وکړ او دغونډې اجندا یې طرحه کړه.

داطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست د کاتب په نامه دیل سوځنه ـ دارالامان واټ دنومولو او له دې امله درامنځته شویو جنجالونو په باب ...

(۴ مخ)

وزارت مالیه

عواید داخلی افغانستان، شش میلیارد افغانی افزایش یافته است

کابل، رسانه ها:

وزارت مالیه افغانستان می گوید که با آغاز کار حکومت جدید و امضای قرارداد امنیتی و دفاعی با امریکا، عواید داخلی کشور نیز افزایش یافته است.

عبدالقادر جیلانی سخنگوی این وزارت روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت که تاخیر در اعلام نتایج انتخابات ریاست جمهوری، عواید داخلی این کشور را به شدت متاثر ساخته و برای پر کردن این خلا، حد اقل به سه سال نیاز است.

آقای جیلانی میگوید که در حال حاضر عواید داخلی این کشور به ۹ میلیارد افغانی رسیده است ...

(ص، ۴)

اردوغان:

د لویدیځ رسنۍ دوه مخي کوي

ترکیه، رسنۍ:

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان په استانبول کې یوې خبرې غونډه کې، بیا په لویدیزو رسنیو نیوکه وکړه، چې دوه مخي کوي.

اردوغان وویل، "په غزه کې ۱۶خبریالان ووژل شول، په مصر کې په یوه ورځ درې زره بې ګناه ملکیان ووژل شول؛ خو لودیزو رسنیو پرې سترګې پټې کړې."

د ولسمشر اردوغان په خبره، لویدیزې رسنۍ په خپلو هیوادونو کې د لاریونونو پرمهال یو ډول خبرونه خپروي او په نورو هیوادونو کې د لاریونونو په اړه بل ډول خبرونه خپروي، چې...

(۳ مخ)

الکوزی:

د چین او افغانستان سوداګرۍ ته د واخان لاره ګټوره ده

کابل، رسنۍ:

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې چارواکي وایي، د چین او افغانستان د سوداګرې راکړې ورکړې د ودې، لپاره د واخان لاره ډېره ګټوره ده.

د دې خونې مرستیال وایي، د دې لارې د جوړولو لپاره د چین په خاوره کې یو څه لومړني کارونه هم شوي دي، خو د افغانستان لورې ته وړاندې کار نه دی شوی.

د اقتصادي چارو کارپوهان وایي، د واخان لاره د چین او افغانستان د سواګریزو فعالیتونو سربیره د جنوبي اومنځنۍ اسیا هېوادونو ته هم خاص اقتصادي اهمیت لري.

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې چارواکي وایي، که د چین او افغانستان ترمنځ د واخان لاره چې د وریښمو پخوانۍ لاره هم ده، بیا ورغول شي، له اقتصادي اهمیت سربېره به سوداګریزې کړنې هم خورا ګړندۍ کړي.

د دې خونو مرستیال خان جان الکوزي د سې شنبې په ورځ ...

(۴ مخ)

پاکستاني پوځ پر کونړ ولایت ۱۷ توغندي توغولي

کابل، رسنۍ:

پر کونړ ولایت له پینځه ورځني ځنډ وروسته یو ځل بیا د پاکستان له لورې ۱۷ توغندي توغول شوي دي.

د کونړ امنیه قومندان عبدالحبیب سیدخېل رسنیو ته ویلي، چې دا توغندي د تېرې ورځې له درې بجو راپدېخوا د دوشنبې د سهار تر شپږ بجو پورې پر سرکانو ولسوالۍ لګېدلي دي.

د هغه په وینا، دغو تازه بریدونو خلکو ته مالي زیانونه اړولي، خو مرګ ژوبله نه لري.

بلخوا د کونړ والي شجاع الملک جلاله رسنیو ته ویلي، چې دا ۱۷ توغندي پر دانګام ولسوالۍ لګېدلي، چې...

(۴ مخ)

ترکیه کې د بېړۍ ډوبېدو له امله ۲۴ افغانان مړه شوي

ترکیه، رسنۍ:

د راپورونو له مخې د ترکیې د مرکزي ښار استانبول په شمالي ساحل کې د کډوالو بېړۍ اوښتو له امله لږ تر لږه ۲۴ کډوال وژل شوي او ډېر نور نادرکه دي.

ویل کېږي وژل شوي ټول افغان کډوال دي چې د ژوندیو کسانو موندلو او د مړو را ایستو عملیات پیل شوي دي.

ژغورونکې ډلې تر اوبو لاندې د مړو په را ایستو بوختې دي. په بېړۍ کې ۴۰ کسان سپاره وو چې ډېری یې افغانان او د سوریې کډوال دي. په وژل شوو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي.

د ژغورنې ډلې یوه غړي علي ساروهان رسنیو ته ویلي: "هوا زموږ کار له مشکل سره مخ کړی، دا یوه کوچنۍ بېړۍ وه او دوی په کې ۴۰ کسان سپاره کړي وو. موږ د ماشومان مړي وینو چې د اوبو پر سر ګرځي."

تر اوسه لا نه ده په ډاګه چې دغه بېړۍ ولې اوښتې ده. د رپوټونو له مخې د شمالي ساحل په دې ساحه کې د بېړۍ سفر غیر عادي دی. داسې ویل کېږي چې کډوالو غوښتل رومانیا ته ځان ورسوي چې د اروپايي ټولنې غړی هېواد دی. ډېری کډوال تل په دې ...

(۴ مخ)

نیاز به «صلح عادلانه»

ف. فایض

رئیس جمهور اشرف غنی در نخستین اظهاراتش تلاش برای تأمین صلح در کشور را در رأس اولویتهای کاری خود قرار داد. همانکه میگویند: شری برخیزد که خیر ما در آن باشد. دستانی که به کشمکش سیاسی کشانیدن انتخابات ریاست جمهوری را طراحی و مهندسی کرده بودند، به هدف خود نرسیدند و بالاخره بعد از گو مگوهای شش ماهه هر دو تیم پیشتاز با آنکه تشویقها و فشارهای بیرونی را هم به همراه داشت؛ ولی از یک فراست سیاسی کار گرفتند و آن توافق به تشکیل حکومت وحدت ملی بود. ...

(ص، ۳)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د دولت پر وړاندې یوه نوې ننګونه او د تدبر او احتیاط ضرورت

سره له دې چې په ۲۰۰۱ کې چې د سپمتبر د یوولسمې نېټې پېښې یې پلمه شوې امریکا او ناټو ددې پېښې عامل د القاعده سازمان وګانه چې مشري یې اسامه بن لادن کوله، دا چې اسامه هغه مهال په افغانستان کې اوسېده او پر افغانستان طالبان حاکم وو او ډېره لږه برخه د مجاهدینو د هغې مجموعې په لاس کې وه چې ځان ته یې د «مقاومت» لقب ورکړ؛ نو امریکا له طالبانو چې د اسامه کوربه توب یې کاوه وغوښتل چې اسامه دې امریکا ته وسپاري: خو طالبانو دا چې تر شا یې محرکات هر څه وو، اسامه، امریکا ته ونه سپاره؛ نو ځکه خو امریکا د ۲۰۰۱ د اکتوبر پر اوومه پر افغانستان برید پیل کړ او په میاشت یوه نیمه کې یې د طالبانو واکمنی ته د پای ټکی کېښود، اسامه هم له افغانستانه ووت او د طالبانو قیادت او نور مهم مشران هم؛ امریکا او بیا ناټو افغانستان ته راغلل، د بن کنفرانس جوړ شو، نوی قیادت او نوی حکومت رامنځته شو.

د امریکا او ناټو په راتګ سره بهرنیو ځواکونو ته کوم حدود او ثغور نه وو ټاکل شوي چې څه به کوي او څه به نه کوي؛ ځکه چې زړه واکمني خو که هر څه وه ختمه هم شوه او له امریکا او ناټو سره په مخالفت کې هم واقع شوه چې دا مخالفت تر ننه پورې دوام کوي، او نوی دولت او حکومت خو هم د امریکا په ابتکار او سیاسي فشار منځته راغلی و او دا دولت هم داسې دولت و چې له صفره یې شروع وکړه او په یوه برخه کې هم پر خپلو پښو نه و ولاړ. له بهرنیو ځواکونو سره د افغان ولس یوه ستونزه دا وه چې هغوی پر هر چا د القاعده او طالب شک کاوه، حال دا چې حقیقت داسی نه و؛ پېښې داسې وشوې چې دودونو مراسم بمبارد شول د خیراتونو مراسم بمبارد شول چې ډېرې بدې او بوږنوونکې پېښې یې پرځای پرېښودې او دا پېښې بالاخره ددې باعث شوې چې د افغان ولس د مظلومیت غږ اوچت شي او د ولس لاس د دولت ګریوان ته ورسېږي، دولت تر یوه وخته پورې پر دغسې پېښو ستر ګې پټې کړې؛ خو اخر خبره دا شوه چې: «هر چه از حد بگذرد رسوا شود».

دولت هم نور ولس ته ځواب نه درلود؛ ځکه د ولس غوښتنه دا وه چې که ته ځان ته دولت وایې، د یوه مستقل هېواد دولت یې؛ خو زموږ د وینو چې په بېګناه توګه تویېږي، پوښتنه وکړه او که نه؛ بیا خو ته دولت نه یې او دا ادعا مه کوه چې دولت یم.

دا خبری ددې باعث شوې چې د افغان دولت او امریکایي قواو ترمنځ اختلافات سر راپورته کړي چې د اختلاف یو عمده لامل همدا شپېنی خپلسره عملیات و. دولت به خبر نه و عملیات به شوي وو او د یو چا پر کور به یې خاورې وراړولې وې، سبا ته به د اړوند ولایت والي وویل چې زه نه یم خبر او دا عملیات له موږ سره په همغږۍ کې نه دي شوي، دی مسألې به خبره لا پسې کړکېچنه کړه. بالاخره د امنیتي قرارداد په اړه چې باید د افغان دولت او امریکا ترمنځ لاسلیک شوی وای او همداسې له ناټو سره د نورو ملاحظاتو ترڅنګ یوه مهمه ملاحظه همدا وه.

د شپېنیو خپلسرو عملیاتو بندول او هغه څه چې زموږ په مطبوعاتو کې ورته د «قضایي خوندیتوب» نوم ورکړل شو که څه هم له حقوقي پلوه دا اصطلاح ناسمه هم وبلل شوه: خو هدف دا و چې که امریکایي پوځیان په افغانستان کې هر جرم کوي، دلته یې څوک نه شي محاکمه کولای، او دا هغه څه و چې د عراق دولت له امریکا سره پرې مخالفت وښود او امریکا له عراقه خپل عسکر وایستل چې وروسته پر دې وتلو پښېمانه وو.

وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو له عمومي قوماندان جنرال کمپبل سره مرکه کړې او دهغه له خولې یې لیکلي دي چې؛ ولسمشر اشرف غني هڅه کوي، ځینی هغه بندیزونه لرې کړي چې پخواني ولسمشر حامد کرزي د طالبانو پر وړاندې د بهرنیو ځواکونو پر عملیاتو وضع کړي وو.

زموږ مشوره نوي افغان دولت ته داده چې دا یوه ډېره نازکه موضوع ده، په دې باب بېړنی او احساساتي تصمیم نیول نه دي په کار، دغسې یو تصمیم یو خو د سولې پروسه چې د نوي دولت د لومړیتوبونو په سر کې ده او په دې اړه هلې ځلې پیل شوي په جدي توګه زیانمنوي او د دولت وسله وال مخالفین د دولت پر نیت شکمنوي او له بلې خوا هغو هیلو ته هم زیان رسوي چې ولس په نوي دولت پورې تړلي دي؛ ځکه تیرو دیارلس کلنو تجربو ته په کتو سره بهرنیان همیشه د نوک پرځای سوک منډي، یو دغسې تصمیم د جنګ پر اور له سره تیل پاشلی شي؛ نو هیله ده چې دولت د احساساتو لمن ونه نیسي او د «تدبر» لمن پر ټینګه ونیسي.

✍ نصرالله

غښتلې اردو د غښتلي هېواد بنسټ جوړوي

ورمه ورځ د ملي یووالې د حکومت اجرائیوي رئیس ښاغلی عبدالله عبدالله چې د عاشورا د ورځې په مراسمو کې یې خبرې کولې وویل؛

د افغانستان حکومت تر آخري توانه کوښښ کوي چې په هېواد کې د سولې د تأمین په موخه له مخالفو وسله والو سره خبرې اترې پرمخ یوسي او ددې ترڅنګ د امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا لپاره به هم لازم ګامونه اوچتوي چې وکولای شي په صحیح مانا د هېواد د پولو ساتنه وکړي.

پر ماضي او حال له ژور غور او فکر نه وروسته دا نتیجه تر لاسه کېږي چې د افغانانو لپاره تر ټولو مهم شی خپلمنځي روغه جوړه او سوله ده، ترهغې چې دغه مهم هدف تر لاسه نشي په هېواد کې د امن او هوسا ژوند خوب لیدل بې ګټې او بې تعبیره دی. تراوسه چې موږ له څومره ستونزو او ننګونو سره لاس او ګریوان یو په دې کې اساسي رول پخپله د افغانانو ترمنځ دهغو داخلي اختلافونو او کشمکشونو دی چې افغانان یې یو د بل پرخلاف وسلو اوچتولو ته اړ کړي دي. بهرني او په ځانګړې ډول ګاونډي هېوادونه هم د افغانانو له دغو خپلمنځي اختلافاتو څخه ناوړه ګټه اخلي او خپلو شومو اهدافو ته د رسېدو لپاره نور هم د جګړې د اور تازه کولو ته بیوزی وهي؛ خو که افغانان پخپلو کې د خبرو اترو له لارې یو سراسري سولې ته ورسېږي او ټول په ګډه په یوه اتفاق د خپل اولس او هېواد د خدمت او پرمختګ لپاره ملا وتړي؛ نو له څه شک پرته افغانان، نه یواځې دا چې له ټولو ستونزو څخه خلاصون مومي: بلکې پر دې هم توانېږي چې د بهرنیو مداخلو موثره دفاع وکړي؛ خو دغه مقصد ته د رسېدو لپاره حکومت او مخالفو وسله والو ته پکار دي چې دواړه خپلو مشترکاتو ته په احترام سره د سولې خبرې اترې پرمخ یوسي. د بېلګې په توګه د افغانستان خاوره د دواړو ګډ میراث دی او پر ټولو یو شان حق لري چې دفاع یې وکړي او د پردیو له هر ډول فزیکي او فرهنګي یرغل څخه یې وساتي. همداراز د اسلام سپېڅلی دین هم د ټولو ګډ دین دی، ددې صحیح نفاذ، احترام او حاکمیت پر ټولو یو شان فرض عین دی. ددې ترڅنګ د افغانستان پرمختګ، هوساینه او له اولس سره خیر ښېګڼه هم پر هر افغان واجبي امر دی. د یو مسلمان په صفت د افغانانو ترمنځ داسې کوم اساسي ستونزه نشته چې هغه خپلمنځي جګړو ته مشروعیت ورکړي؛ بلکې زموږ ګډ دین، عقیده، فرهنګ، هېواد او افغانیت هغه اساسي مشترکات دي چې د ورورۍ او یووالې پر تفر کینولو ته مو اړ باسي او نه مو پرېږدي چې په ناحقه د یو بل پرخلاف وسله اوچته کړو. البته دا مهمه ده چې د عمل په ډګر کې خپل اسلامیت ثابت کړو د اسلام تر نامه لاندې داسې فعالیتونه ونکړو چې د اسلام له صریحو او څرګندو اوامرو سره په ټکر کې وي، لکه په عام محضر کې د ښځو له اخلاقه پرېوتې سندرې، رقص، ډرامې، بې حجابي، فحاشي، کفري او الحادي څرګندونې او لیکنې، د اسلامي احکامو له تطبیق نه ډډه، د قصاص او حدودو، نه نافذول، د شرابو او نورو نشه یي توکو آزادانه استعمال د ټولګټو ځایونو ویجاړول، بې ګناه د خلکو څورول، وژل او داسې نور...

د مطلق اکثریت افغانانو نظر دا دی چې که دواړه لورې په واقعي مانا د زړه له تل نه د سولې خبرو اترو ته کیني او د یو بل غوښتنې په غور او دقت سره واوري؛ نو داسې کوم بنیادي ستونزه نشته چې موافقې ته ونه رسېږي؛ ځکه چې اختلافي نقطې سطحي بڼه لري او اتفاقي نقطې اساسي بڼه، کله چې پر اساسو توافق وشي؛ نو اختلافي نقطې یا پخپله له منځه ځي او یا هم دېته نوبت نه رسېږي چې د یو بل پرخلاف وسله اوچته کړي؛ بلکې یو بل زغمي او داسې کوم مشکل نه پیدا کوي چې هېواد له بحرانونو او ننګونو سره مخامخ کړي؛ نو ځکه د افغانانو لپاره سوله تر ټولو اساسي او مهمه اړتیا ده چې په هېڅ حالت کې ترینه غفلت نشي کېدلای.

د هېواد د امنیتي ځواکونو صحیح روزنه او په پرمختللو عصري وسلو سنبالول هم زموږ اساسي اړتیا ده، زموږ د اسلام سپېڅلی دین موږ ته همدا لارښوونه کړې چې د خپل دښمن د مقابلې لپاره تر آخري توانه قوت ترلاسه کړئ.

آیت شریف: ((وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ)) (الانفال: ۶۰).

په همدې خبره تاکید کوي چې د خپل پوځ د پیاوړتیا او ځواکمنتیا لپاره باید تر آخری توانه هلې ځلې وکړای شي. د ((مَا اسْتَطَعْتُم)) له لفظ نه دا ترلاسه کېږي چې د خپل پوځ د قوت د زیاتولو لپاره کوم ټاکلی حد نه دی مقرر شوی؛ بلکې لامحدود قوت ورته ښودل شوی. همداراز امام بیضاوي او زمخشري د ((مِن قُوَّةٍ)) د لفظ په تفسیر کې لیکلي دي چې لدېنه مطلب ټول هغه شیان دي چې پوځ ته قوت وربخښي. یعنې هر هغه وسایل چې د پوځ د قوت د زیاتوالی باعث ګرځي هغه باید پوځ ته مهیا کړای شي لکه په نننی عصر کې جنګي الوتکې، لیرې ویشتونکي توغندي، توپونه، راکټې، دوربینونه، مخابرې، کمپیوټرونه او نور لسګونه جنګي وسایل چې د جنګ پر وخت پوځ ته بریاوې په برخه کوي.

د نړۍ په تاریخ کې تل وسلې خپل اهمیت ثابت کړی او داسې کومه جګړه نده پېښه شوې چې په هغه وخت کې له شته وسلو او وسایلو څخه کار نه وي اخستل شوی. فلهذا په اوسني عصر کې چې د جنګ په ډګر کې وسله لوی نقش لري، ددې خبرې کلکه اړتیا ده چې خپل امنیتي ځواکونه په نویو جنګي وسلو مجهز او سنبال کړای شي چې پر مټ یې وتوانېږي د هېواد موثره دفاع وکړي او دښمن ته دا مجال ور نه کړي چې د هېواد امنیت وګواښي او اولس ته ستونزې پیدا کړي.

ټوله نړۍ مني چې د افغانستان امنیتي ځواکونه د لوېې حوصلې، استقامت او شجاعت خاوندان دي د قربانۍ کومه ولوله چې زموږ اتل اردو یې لري د نړۍ په نورو سرتیرو کې نه تر سترګو کېږي، هغه کارنامې چې د نړۍ پوځیان د پرمختللیو وسلو پر مټ ترسره کوي افغانان یې په ډېرو عادي او محلي وسلو ترسره کوي. موږ په یقین سره ویلای شو چې که چیرته زموږ عسکري ځواک په مناسبو وسلو مجهز کړای شي؛ نو ان شاء الله چې په ډېر لږ وخت کې به پخپل قابلیت او غښتلې جذبه په هېواد کې د امن او امان پسرلی راولي. امنیت د هېواد د بقا، سلامتیا او پرمختګ ضامن دی، تر کومه چې په افغانستان کې امنیت نه وي تأمین شوی زموږ د ټولو افغانانو ارمانونه نیمګړي او بې پایلې دي. امنیت زموږ د هېواد د هر اړخیز پرمختګ او سمسورتیا لپاره په بدن کې د وینې مثال لري؛ لکه څنګه چې له وینې پرته ژوند ناممکن دی همداسې له امنیت پرته د هېواد سلامتیا، پرمختګ او ښېرازتیا ناممکنه ده. ښاغلي عبدالله عبدالله چې په ښه وسلو د اردو د مجهز کولو کومې څرګندونې کړي دي دا د افغانانو دزړه آواز دی. د افغانستان هر وګړی نه یوازې دا چې د ملي یووالې حکومت د اجرائیوي رئیس ددغې خبرې ملاتړ کوي؛ بلکې دا ژمنه ورسره هم کوي چې په دې لاره کې به له هر ډول ځاني او مالي قربانۍ څخه هم ډډه ونه کړي. د ملي یووالې حکومت ته پکار دي چې د افغانستان د مسلمان اولس دغه ارمان ژر تر ژره پوره او د هر څه دمخه د عسکري ځواکونو د غښتلي کولو په موخه عملي ګامونه پورته کړي. همداراز د هېواد د ټولو امنیتي ځواکونو روغتیا او دهغوی مناسبې غذا او معاش لپاره هم جدي پاملرنه وکړي؛ ځکه چې غښتلې اردو د یو غښتلي هېواد بنسټ تشکیلوي؛ خو له بده مرغه تراوسه پورې حکومت د اردو د ښې روزنې او په پرمختللیو وسلو د سنبالښت په اړه لازم اقدامات نه دي کړي، په داسې حال کې چې افغانستان په یو داسې چاپېریال کې واقع دی چې شاخوا پراته هېوادونه دنړۍ له پرمختللیو وسلو او تیکنالوژۍ څخه برخمن دي، او دوسلو لوی لوی زیرمې لري؛ مګر زموږ اردو د کلاشینکوفونو او نورو سپکو او درنو وسلو کافي مرمۍ او ګولۍ هم نه لري چې د خپلو مورچلو د دفاع لپاره څو ورځې ورته کفایت وکړي، همدا لامل دی چې زموږ زیاتره سرتیري د کافي راشن د نه درلودلو له کبله له مرګ سره مخامخ کېږي او خپل ژوند له لاسه ورکوي که چېرته چارواکي واقعاً دهېواد بقا اوزمکنۍ بشپړتیا غواړي؛ نو لدې وروسته د غفلت هېڅ جواز نشته، باید ژر تر ژره په مدرنو او عصري وسلو سره د پوځ د سنبالولو کار پرمخ یوسي او خپل دیني او ملي مسؤولیت په لومړی ګام کې ترسره کړي.

فروغگر

از بحران تا ثبات فقط گذشت و رواداری

برخیز تا به عهد امانت وفا کنیم
تقصیرهای رفته به خدمت قضا کنیم
دارالشفای توبه نه بستست در هنوز
تا درد معصیت به تدارک دوا کنیم

انتخابات ریاست جمهوری در کشور عزیز که از ۱۶ حمل آغاز شد و بالنتیجه به دور دوم رفت؛ نخست دشمنان افغانستان شایعه پراگنی هایی را آغاز کردند که گویا مرحلهٔ نخست انتخابات که به نتیجه یی راه نیافت مردم را از تحویل حاصل این روند نومید نموده است، روی همرفته در دور دوم انتخابات مردم منزجر افغانستان دیگر به پای صندوقهای رأی نخواهند رفت؛ اما زمانی که دور دوم انتخابات در ۲۴ جوزای سال جاری آغاز شد مردم آگاه ما بیشتر از پیش در روند انتخابات شرکت نمودند و چند نکته را به جهانیان به نمایش گذاشتند:

• دیگر در کشور از هر گونه کشمکش، خشونت و جنگ بیزارند و به مخالفان دولت پیام دادند که اسلحهٔ خود را بر زمین گذارند و در روند سیاسی کشور بخت ازمایی کنند، در غیر آن، ملت به هیچ وجه حاضر نیست حاکمیت آنها را بپذیرد بویژه حاکمیتی را که چندین سال قبل به نمایش گذاشتند.

• پیام روشن دیگر ملت به رهبران سیاسی بود که آنها با رفتن به پای صندوقهای رأی نشان دادند که به حکومت مردم سالار معتقد اند و از هر گونه زد و بندهای سیاسی و معامله بر خود بیزاری نشان می دهند.

• به جهانیان پیام دادند که اقوام افغانستان بدنهٔ واحد ملتی اند که به هیچوجه تجزیهٔ کشور خود را نمی خواهند و نه به ایدیولوژی های وارداتی اجازهٔ حاکمیت بر خود را می دهند.

در مقابل دو نامزد پیشتاز انتخابات دور دوم پس از یک سلسله نشست های برادرانه و دوستانه با توجه به اوضاع کشور و وضعیت نابسامان امنیتی و همچنان قربانیهای بی دریغ مردم در راه امنیت و ثبات به تشکیل حکومت وحدت ملی به توافق رسیدند که براساس این توافق محمد اشرف غنی بحیث رئیس جمهور کشور و داکتر عبدالله عبدالله بحیث رئیس اجرایی حکومت تعیین و سپس نتایج دور دوم انتخابات اعلام شد. ما در دوران هر دو دور انتخابات ریاست جمهوری افرادی را در هر دو حوزهٔ انتخاباتی دیدیم که در غلو به نامزد مورد نظر خود حتی ایمان و وجدان خود را با تهدید کفر روبرو کردند و نمایان بود که به دور از منافع ملت، دین و کشور فقط در سدد حفظ منافعی می باشند که در ادوار گذشته حکومت از طریق اختلاس، چپاول، غصب و رشوه ستانی به دست آورده بودند و افرادی هم در میان آنها دیده می شدند که تلاش داشتند تا بار دیگر در جهت احیای الحاد دوران حکومت های کمونست ها در افغانستان بخت ازمایی کنند و از همان لحظه ها رجز خوانی کمونیزم را آغاز کرده بودند و گاه و بیگاه برای تحقق اهداف آینده خود گرد هم جمع می شدند و به سرسلامتی لینن و احیای کمونیزم در افغانستان پیک های شراب را ته و بالا می کردند.

گروه های دیگری دیده می شدند که در کمپاینهای انتخاباتی تعصب های قومی، منطقه یی و زبانی را دامن می زدند که این گروه نیز با برد قطعی یک نامزد در فکر حفظ دست آوردهای حرام مالی خود بودند که در دوران حکومتهای گذشته با مکیدن خون ملت بران دست یافته بودند.

اما هنگامی که حکومت وحدت ملی پس از مراسم تحلیف رئیس جمهور، رئیس اجرایی و معاونان حکومت رسماً به کار آغاز کرد، هر دو جناح حکومت وحدت ملی نشان دادند که به وحدت ملی، منافع ملت و کشور و همچنان به توافقهایی متعهد هستند که در صورت عملی شدن آن مرحلهٔ تازه بازسازی کشور آغاز می شود که در تشکیلات حکومتی، عرصه های اجرایی و مناسبات ملی و بین المللی ریشه دارد نه در پرورش یک مشت متملقان فرصت طلب، مغرض و استفاده جویی که با دیده درایی تمام منافع شخصی خود را بر منافع ملی ترجیح می دهند.

با مشاهدهٔ این وضعیت و چند اقدام جدی حکومت زنگ خطر به صدا درآمد و خاینان بزرگ ملی، استفاده جویان، غاصبان، گروه هایی مافیایی، رشوه ستانان و اختلاسگران بر خویش لرزیدند و حتی گزارشهای خصوصی موثقی را شنیدیم که هستند ازین جمله کسانی که تصمیم فرار از کشور را دارند.

به تعقیب آن در چند اقدام حکومت که از بازگشایی کابلبانک آغاز شد و تا سفرهای عربستان سعودی و چین رسید و در هر نشست رئیس جمهور و رئیس اجرائیه حکومت حرف از وحدت ملی، حکومتداری خوب، اهلیت، خدمت به مردم و صلح به میان آمد، مردم روز تا روز امیدوار شدند و برگشتند از نومیدی هایی که از فضای بحران انتخاباتی برای شان پیدا شده بود. اهمیت سفر رئیس جمهور به عربستان سعودی که امروز در جهان اسلام چشم امید همه به آن می گردد، درین بود که ماهیت حکومت وحدت ملی را به شاه و شاهزادگان و اراکین حکومت سعودی خوبتر و شفاف تر عرضه داشت. اینک قرار گزارش ها سران آن کشور تصمیم گرفته اند که علاوه از اشتراک در بازسازی افغانستان پیمان استراتیژیک را نیز با حکومت افغان امضا کنند و قرار است در همین نزدیکی ها در رابطه به اعادهٔ صلح و امنیت در کشور و پایان جنگ. علما و مفتیان حکومت عربستان سعودی تحریم جنگ در افغانستان را نیز فتوی دهند که این خود دست آوردیست بزرگ که شورای عالی صلح در ظرف چند سال نتوانست به آن دست یابد؛ اما سفر رئیس جمهور به چین که از سوی مقامات آن کشور به گرمی استقبال شد چندین توافقنامه را در بخشهای رشد اقتصادی، سرمایه گذاری، استخراج معادن، احیای راه ابریشم، کمک تجهیزات و سلاح به اردوی افغانستان و آغاز پروژه های زیربنایی در کشور از سوی چین در آن شامل بود به امضا رسید و رسانه های وطنی و جهانوطنی بر ابعاد گوناگون این توافقها تبصره های مثبت داشتند. تا جایی که فکر می کنم سفر طولانی پنج سالهٔ حکومت وحدت ملی در پیش است که در ۳۰ روز اول آن کار چند ساله را انجام داد و یا دست آورد چند ساله را به ملت به ارمغان آورد. امیدواریم که اقدامات بعدی حکومت وحدت ملی که در قدم اول تشکیل کابینه و در قدم دوم سفر رئیس جمهور به پاکستان است، پی آمدهای نویدآور را به دنبال داشته باشد.

ما مطمئن هستیم که هر نظام هواداران و بدخواهانی داشته می باشد که همین اکنون فعالیت های دسیسه گونهٔ خاینان ملی که در مطبوعات خوبتر تشخیص می شود و در تبلیغات سرچوکی بر این نکته تمرکز دارد که از راه دسیسه و دغل و منافقت در راه حکومت وحدت ملی سنگ اندازی کنند؛ اما حکومت وحدت ملی باید با درایت کامل این همه دسیسه ها را در نمایش عمل خود خنثی کند.

خوش بود گر محک تجربه آید به میان
تا سیه روی شود هرکه که در اوغش باشد

ان شاء الله صلح و امنیت نیز در کشور ما تأمین خواهد شد و با استحساب خاینان بزرگ ملی، جامعهٔ ما از لوث دزدان، غارتگران، آدم‌ربایان، متملقین و متعصبان پاک خواهد شد و ملت ما فرداهای روشنتری را به‌مشاهده خواهند گرفت. همچنان کشور ازثباتی برخوردار خواهد شد که رفاه ملت و آبادی افغانستان را به دنبال داشته باشد.

همه پدیده های طبیعت به یگانگی خداوند ﷻ گواهی می دهند

احمد خالد (فیاض)

طبیعت کتاب باز الهی است که همه ذرات آن به وجود خالق یکتا دلالت دارد. تفکر در کائنات و مطالعهٔ دقیق طبیعت، انسان را به وجود خداوند (جل جلاله) راهنمایی کرده، ایمان را لازم می گرداند. اگر هر صاحب عقل و خرد در آسمان ها و زمین تفکر و تأمل نمایند حتماً به وجود خدای لایزال پی برده به او ایمان می آورد. آنانی که از عقل سلیم خالی اند نمی توانند که به این حقیقت پی برده از راه تفکر به کائنات به کامیابی نهایی برسند، به همین خاطر قرآن پاک می گوید:

ترجمه: ((بدون شک در آفرینش آسمان ها و زمین و رفت و آمد شب و روز نشانه های روشنی است برای صاحبان عقل و خرد.)) (آل عمران: ۱۹۰)

یعنی اگر صاحبان عقل و خرد و اندیشمندان در آفرینش آسمان ها و زمین و نظم دقیقی که در آنها نهاده شده غور و تأمل نمایند پی می برند که اینها آیات و نشانه های واضح و روشنی اند که بر وجود خالق یکتا دلالت دارند. پس از دیدگاه شریعت اسلامی برای هدایت و راهنمایی بشر دو نوع کتاب وجود دارد: یکی کتاب منزل، آن کتابی که در لوح محفوظ ثبت بوده و توسط جبرئیل امین (ع) بالای محمد امین علیه الصلاة والسلام نازل شد. نزول این کتاب حسب وقایع و حوادث کم کم در ظرف بیست و سه سال نبوت تکمیل گردید و رسول گرامی خداوند (جل جلاله) بدون کم و کاست با امانتداری کامل آنرا برای مردم رسانید. این کتاب بنام کتاب مقرؤ (قرائت شده) و کتاب منزل (نازل شده) یاد میگردد. چنانچه خداوند (جل جلاله) در آیات ۱۹۲ – ۱۹۴ سورة الشعراء می فرماید:

ترجمه: ((هر آئینه قرآن پاک از طرف پروردگار عالمیان نازل شده است. آنرا روح الامین (جبرئیل علیه السلام) بر قلب تو نازل کرد تا تو از بیم دهندگان باشی.

دوم کتاب مفتوح یا باز است که مراد از آن طبیعت و انسان است که طبیعت را جهان بزرگ و انسان را جهان کوچک گویند. خداوند (جل جلاله) نشانه های قدرت و حکمت خود را در گوشه و کنار جهان هستی و نفوس بنی آدم نشان می دهد تا مردم بفهمند که وجود خدا حق است و کتابی را که برای هدایت انسان ها نازل کرده حق و رسالت پیامبر گرامی اسلام حق است، چنانچه خداوند (جل جلاله) در سورهٔ فصلت آیت ۵۳ می فرماید:

ترجمه: ((ما به زودی نشانه های قدرت و حکمت خود را در آفاق و انفس انسان ها نشان می دهیم تا برای آنها روشن شود که قرآن حق است. آیا کافی نیست که پروردگارت به همه چیز گواه است.))

آیت فوق نشانه های قدرت الهی را در دو بخش نشاندهی می کند و هر انسان متفکر با تفکر و تأمل در همین دو بخش خود را به حقیقت برساند و به عبادت آن ذاتی که خالق همهٔ کائنات است بپردازد لحظه ای هم از خدا غافل نشده مانند حیوان (چهار پایان) زندگی اختیار نکند. آن دو بخش را که آیت فوق به آن اشاره می کند یکی جهان بزرگ (طبیعت) است دوم جهان کوچک (انسان) است. جهان بزرگ حیثیت کتاب مفتوح را دارد که حقایق و رازهای شناخت حقایق در آن درج و ترسیم شده است. هر گاهی که انسان با به کار گرفتن عقل خود به هر پدیدهٔ طبیعت دقت نماید آثار وجود خداوند (جل جلاله) را در آن در می یابد و اعتراف به وجود خدا می کند.

و فی کل شی له آیة – تدل علی انه واحد

در هر پدیدهٔ طبیعت نشانه وجود خدا موجود است و هر پدیدهٔ طبیعت بریگانگی خدا دلالت میکند. پدیده های طبیعی دال بر آن اند که او تعالی ذات واحد و لاشریک است اوبه تنهایی این پدیده های طبیعت را آفریده و هر پدیده‌طبیعت به یگانگی اوتعالی‌شهادت‌میدهد.

برگ درختان سبز در نظر هوشیار
هر ورقش دفتریست معرفت کردگار

ساینسدان ها و دانشمندان علوم طبیعی با ریسرچ و تحقیقات علمی اعتراف کرده اند که در تنظیم عوامل طبیعی دقت و ریزه کاری های ظریفی به کار رفته است که اگر از همان اندازه تعیین شده چیزی کم و یا زیاد می شد، حتماً مشکلات و کمبودی ها در حیات و زندگی رخ می داد. همان ذات حکیم از روی حکمت و علم کامل همه چیز را چنان عیار نموده است که زندگی به آسانی دنبال شده همه مایحتاج و ضرورت های انسانی به دسترس انسان ها قرار داده شده است.

اگر به اناتومی و فیزیولوژی انسان دقت شود پی برده می شود که انسان خود کتاب مفتوح دیگری است و دلیل واضح و روشن بر حقانیت خالق آن است. نشانه های زیادی در وجود انسان وجود دارد که سبب راهنمایی انسان متفکر، عاقل و اندیشمند شده از زندگی غیر مسؤولانه انسان را باز می دارد. خداوند (جل جلاله) در قرآن پاک در سوره ذاریات آیت دوم می فرماید:

ترجمه: ((در وجود شما آیات و نشانه هایی است پس آیا چشم نمی گشائید و آنرا نمی بینید.))

این آیت انسان را تنبیه می کند تا وجود خود را مورد دقت و مطالعه قرار دهد و در تحقیق خود بیفزاید و از راه تحقیق و انکشافات علمی به حقایق پی برده با چشم باز زندگی نماید. اسلام هیچگاه زندگی جاهلانه و بی خردانه را نمی پذیرد و انسان را تأکید پیهم نموده دستور می دهد تا در جستجوی حقایق باشد. امور طبیعی و ساختمان وجود خود را با همه ریزه کاری ها و موشگافی هایی که در آن به کار گرفته شده است تحت غور و مطالعه قرار بدهد.

بدون شک انسان یک اعجوبه جهان هستی است بیشتر از عجایب جهان طبیعت عجایبی در وجود انسان قرار دارد و این عجایب در هیچ جای دیگری جهان هستی وجود ندارد، دستگاه هایی که در وجود انسان است و هر لحظه با همان نظم و انسجام کار می کنند همه و همه گویای آنست که این ماشین های خود کار، نمونه هایی از قدرت لایزال الهی است و حواس مختلفی که در وجود انسان موجود اند هر کدام آنها یک آیت بزرگ از آیات الهی است. پس هر که خود را بشناسد خالق خود را می شناسد؛ اما آن بی عقلان و بی خردان که تا هنوز خود را نشناخته اند از وجود خدای قدیر و قدرت لایزال او انکار می کنند. این بیچاره ها در گودال جهل و جهالت زندگی دارند با چشم های بسته مانند خفاشان کور دل اند که نه درین پدیده های طبیعی و نظم دقیق الهی می اندیشند و نه نشانه های عظیم و بزرگ الهی را می بینند. آنها مانند چهارپایان بلکه بدتر از چهارپایان اند تنها برای اشباع امیال و خواهشات نفسانی به خورد و نوش اکتفا کرده مسؤولیت پذیر نیستند. حقیقت وجود و حکمت خلقت را نیاموختند با گمراهی و بی اعتنایی کامل زندگی دارند نه آنها حق خدا را ادا می کنند و نه هم برای آزادی نفس های خود گام بر می دارند اینها ستمگران واقعی اند که هم بر نفسهای خود ظلم کرده اند و هم در ادای حق خالق پس مانده اند.

کسی که حق خالق خود را ادا نکرده ترحم بر خود نکند آیا او می تواند که بر دیگران ترحم و دلسوزی نموده مصدر خدمت واقع شود؟! عقل سلیم و فکر رسا حکم می کند همچو اشخاص همانطوری که بر خود ظلم کرده در برابر منعم حقیقی ناسپاسی کرده اند بر دیگران هم ظلم می کنند و هیچگاه مصدر خدمت و الگوی عدل و انصاف در جامعهٔ انسانی قرار نمی گیرند.

انصاف آن است که انسان با چشم باز و نگرش عادلانه در پی دریافت حقایق شود. آیات و نشانه های عظمت و بزرگی الله متعال را درنظر گرفته به عبادت خدای واحد بپردازد. دساتیر و احکام متین او را که سبب راهیابی و سرفرازی انسان میگردد منهج اصلی زندگی قرار دهد و با ادا کردن حق خالق یکتا بر خود ترحم و شفقت کند و با استفاده از ارشادات ربانی مصدر خدمت برای دیگران واقع گردد.

د لویدیځ رسنۍ دوه مخې...

دا دوه مخې سیاست په هیڅ ډول زموږ لپاره د منلو وړ نه دی. ددې په بېلګه د اسراییلو لخوا پر غزې باندې د وحشیانه برید پرمهال په ۲میاشتو کې ۱۶تنه خبریالان هم ووژل شول بدې اره لویدیزو رسنیو چوپه خوله غوره کړه.
اردوغان په لویدیځ په دې اړه هم نیوکه وکړه، چې په مصر کې د ټاکل شوي ولسمشر محمد مرسي د پرخولو پرمهال یې د السیسي پر جنایتونو سترګې پټې کړې، چې په دغه کودتا کې نږدې درې زره خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړ، خو لویدیزو رسنیو ځکه پرې سترګې پټې کړې، چې مرسي ددوی د خوښې وړ نه وو او د هغه پرځای السیسي ولسمشر شو.
اردوغان په خپلو خبرو کې وویل، د ملګرو ملتونو د هغه غونډې بلنه یې نه ده منلې، چې د غونډې ګډونوالو کې د السیسي هم دی.
بناغلي اردوغان د مصر ولسمشر "غیر قانوني ولسمشر" بللی او زیاته کړې یې ده چې د ملګرو ملتونو لخوا د یو شمېر ولسمشرانو په غونډه کې د ګډون بلنه ور کړل شوې وه، خو ځرنګه چې عبدالفتاح سیسي هم د غونډې له ګډونوالو څخه و، بلنه یې رد کړه.
"له دغه سړي (عبدالفتاح سیسي) سره په یو میز زما کېناستل نوموړي ته د مشروعیت ور کولو په معنی دي."
د اسلامي هېوادونو په ولسمشرانو کې رجب طیب اردوغان یواځینی ولسمشر دی، چې تل د لویدیځ د غلط سیاست په اړه غبر پورته کوي. اردوغان وایي، چې د ظالم پر وړاندې د مظلوم ترڅنګ درېدل زموږ وجداني دنده ده.

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان سیاسي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمیرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه سترديږي بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

نیاز به «صلح ...

(ادامه از صفحه اول)

...می پذیریم که این حکومت چالشهایی را هم به همراه خواهد داشت و به تعبیر زیبای آقای عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان آنرا بعنوان «اخف ضررین» پذیرفته اند؛ ولی در خیلی از موارد این حکومت سودمندتر از آن ثابت شده میتواند که تنها یک تیم به تنهایی پیروز اعلان میشد و به تنهایی حکومت می ساخت که در آن صورت طبیعی است که تیمهای دیگری که در یک تیم گرد آمده بودند به نحوی با دولت در تقابل قرار میگرفتند که جلو خیلی از ابتکارات و اجراآت دولت را میگرفت و یا کم از کم سیر این ابتکارات و اجراآت را کند میساخت.

حالت جنگ را به صلح تبدیل کردن واقعاً در رأس همه چالشهایی قرار دارد که دولت ما چه در گذشته و چه هم اکنون با آن مواجه است. برای اعادهٔ صلح اولتر از همه یک ارادهٔ قاطع به کار است. آنچه را ما تا اکنون مشاهده و احساس میکنیم هم رئیس جمهور و هم تیم همکار دولتی اش این اراده را دارد. اولین سفر رئیس جمهور در رأس یک هیأت دولتی به عربستان سعودی در پهلوی ادای حج عمره زمینهٔ آنرا فراهم ساخت که رئیس جمهور در رأس تیم همراهش با ولیعهد آن کشور و مسؤولین دیگر دیدارهایی داشته باشد؛ ولی نشست هم بین رئیس جمهور محمد اشرف غنی و شهزاده مقرن یکی دیگر از بلند پایگان دولت و خانوادهٔ سلطنتی سعودی صورت گرفت که امیدوار هستیم نتایج خوبی را در بر داشته باشد. سفر به سعودی بتاریخ ۳/۸/۱۳۹۳ صورت گرفت.

سفر دوم رئیس جمهور بتاریخ ۶/۸/۱۳۹۳ در رأس یک هیأت بلندپایهٔ دولتی به چین صورت گرفت. این سفر چهار روزه علی الظاهر پر دست آورد بود. علاوه از آنکه چهار قرارداد بین سران دو کشور به امضا رسید و رئیس جمهور در یکی از پوهنتونهای چین سخنرانی کرد. مذاکرات و تفاهماتی که به ارتباط همکاری چین با پروسهٔ صلح در افغانستان صورت گرفت و آنچه از اظهارات رئیس جمهور بر می آید، میتوان به آن خوشبین بود. گرچه عده یی از صاحبنظران حتی به سطح مطبوعات به ارتباط سفر رئیس جمهور به سعودی و چین اظهار شک و تردید کردند که به ارتباط صلح دست آوردی داشته باشد. البته دلایل آنها هم کم از کم مورد تأمل است؛ ولی آنچنان که نباید همیشه خود را فریب داده و به ناحق خوشبین باشیم. همیشه نباید شیوهٔ شک و تردید را هم به خود راه دهیم. البته این راست است که هم در خوشبینی و هم در عدم خوشبینی محتاطانه عمل کنیم؛ ولی اینکه کاملاً عدم خوشبینی را بر خود مستولی سازیم و هر حرکت و هر اقدام را به دیدهٔ شک بنگریم این هم ما را همیشه به آغوش نومیدیها خواهد سپرد.

قرار است در آیندهٔ نزدیک رئیس جمهور سفری به پاکستان داشته باشد و آنچنان که وی در کنفرانس خبری یی که بعد از بازگشت از چین به کشور به تاریخ ۱۰/۸/۱۳۹۳ داشت گفت که او آمادگی خود را برای این سفر گرفته است. ما امیدوار هستیم که رئیس جمهور بتواند با صراحت لهجه با رهبران پاکستان صحبت کند تا علت العلل اصلی جنگ در افغانستان روشن شود. البته اظهار نظرها در پوششهای سیاسی حلال مشکلات بوده نمیتواند. باید واضح و به اصطلاح عامیانهٔ ما پوست کنده صحبت شود. اکنون حقایق پوشیده نیست. آنچه در پاکستان می گذرد از نظر افغانستان پنهان نیست و آنچه در افغانستان میگذرد از نظر پاکستان پنهان نیست. امید است آنچنان که رئیس جمهور افغانستان باید گپهای خود را با صراحت کامل با رهبران پاکستان مطرح کند. جانب پاکستان هم حرفهای خود را با صراحت و صادقانه مطرح کند. این تنها حرف افغانستان و پاکستان نیست. بیشتر کشورهای دنیا بخصوص همسایه های یک کشور در کشور دیگر منافع خود را دارد. بناءً ما هم در پاکستان منافع خود را داریم و پاکستان هم در افغانستان منافع خود را دارد؛ ولی این منافع چه از سوی افغانستان و چه هم از سوی پاکستان در چهارچوب روابط دو کشور و قوانین ملی و بین المللی مشروعیت خود را داشته باشد و یکی منافع مشروع دیگر را بپذیرند؛ ولی اینکه یکی دو پا را در یک موزه کرده بخواهد با استفاده از شرایط حاکم جانب مقابل، خواستهای نامشروع خود را بر آن بقبولاند، آن باز حرف جداگانه است و هر کسی تصمیم خود را خواهد گرفت. باید هر دو کشور حاکمیت ملی، استقلال سیاسی و تمامیت ارضی یک دیگر خود را تنهابر زبان نه؛ بلکه از ته دل بپذیرد. تنها توافقات زبانی و اظهار خوشبینی کردن برای فریب دیگری حلال مشکلات نیست؛ بلکه آنچنان که گفته اند:

«پاک بازی؛ خدا راضی»

مشکلات زمانی حل شده میتواند که صحبتها صریح، صادقانه و در عین زمان عادلانه و مشروع باشد.

ما خوب میدانیم که جنگ موجود در افغانستان یک بازی بسیار پیچیدهٔ استخباراتی است که دستهای خیلی زیادی در این بازی دخیل است و اهداف بسیار نامقدسی را در عقب خود دارد. عبدالحمید محتاط اولین وزیر مخابرات جمهوریت سردار داوود. از سردار داوود به حوالهٔ یک نویسندهٔ امریکایی نقل میکند که در براعظم آسیا دو مرکز عمدهٔ استخباراتی وجود دارد که یکی شهر کابل و دومی شهر بنکاک است. هکذا وی مینویسد: زمانی که من وزیر مخابرات شدم برایم اطلاع رسید که در شهر کابل در بعضی خانه ها دش آنتن نصب است. آن وقت در افغانستان تلویزیون وجود نداشت. بقول محتاط که من هیأتی را توظیف نمودم و تمام این دش آنتن ها را تثبیت کردند که همه در خانه هایی نصب شده بودند که خارجیها در آن زندگی میکردند که بعداً من به سردار داوودخان اطلاع دادم و او حرف بالا را برایم گفت که بعداً باشندگان آن خانه ها را جلب نمودم و از اینکه بدون اجازهٔ وزارت مخابرات این کار را کرده بودند دش آنتن ها را از آنها جمع آوری کردیم چون ازین آنتنها استفادهٔ استخباراتی صورت میگرفت. اکنون که وضع منطقه بمراتب پیچیده تر شده است. روسها به افغانستان آمدند و یک دهه در کشور ما حضور داشتند. بعد از شکست روسها و سقوط حکومت کمونستی، کشورهای همسایه با دست باز داخل افغانستان شدند و اکنون که امریکا و ناتو به کشور ما آمده اند. بناءً هم کشورهای همسایه، هم کشورهای منطقه، هم امریکا، هم کشورهای عضو ناتو در افغانستان بنحوی حضور دارند. البته امریکا و ناتو علنی و دیگران هم بگونه یی که بسیار پوشیده هم نیست. فلهذا این حالت بدون شک که اعادهٔ صلح به کشور ما را با دشواریها مواجه ساخته است.

وقتی من از صلح عادلانه نام می برم، از کاربرد این اصطلاح، تعریف ویژه دارم به این معنا که وقتی مذاکرات صلح با مخالفین سیاسی دولت آغاز میشود نه باید به این قیمت باشد که به هر گونه خواست آنها و لو زیانهایی به افغانستان داشته باشد گردن نهاد و نه هم فرمایشات گروههایی داخلیی که آشتی مخالفین را خطری برای منافع خود میدانند با ارزش خوانده شود یعنی یک توافق یکجانبه صورت نگیرد. من باور دارم که مخالفین مسلح دولت هم نیازی به همکاری صادقانهٔ دولت دارند؛ زیرا آنها در منجلابی گیر مانده اند که خواه مخواه مستلزم همکاری و دست دادن به آنها میباشد. تا باشد آنها یکبار در موقعیتی قرار بگیرند که بتوانند تصمیم مستقلانه بگیرند هم از تسلط استخبارات بیرونی آزاد شوند و هم از گروههای بیرونی تفکیک گردند.

نباید حق مجاهدین ضایع ...

رسالت شانرا در انتخابات انجام داده اند؛ اما آیندهٔ افغانستان به دست سیاسیون کشور می باشد که کشور را به کجا میرسانند.

موصوف گفت که حکومت وحدت ملی، وظیفه دارد که برای هر فرد جامعه خدمات مورد نیاز شان را عرضه نماید.

معاون اول اجرائیهٔ حکومت، به وحدت ملی تاکید کرده و از علما، ملت و سیاسیون خواست که دست به دست هم داده و وحدت ملی را مستحکم بسازند.

قوماندان ببرک یکتن از اعضای شورای همبستگی ناحیهٔ هشتم شهر کابل که در این نشست حضور داشت، گفت که افغان ها برای وحدت ملی ضرورت دارند و باید حکومت بالای اتفاق و اتحاد کوشا باشد.

وی از حکومت جدید خواست که در بخش وحدت ملی توجه بیشتر داشته باشد و در ادارات دولتی باید افراد و اشخاص شایسته و متخصص گماشته شود.

دوزیرانو شورا پریکړه: نور دځینو...

دوزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړاو زیاته یې کړه. ددواړو لورو له استازو سره له خبرو وروسته پریکړه وشوه چې دجمهوري ریاست ماڼۍ ته څېرمه واټ چې دازادي مطبعې ته نږدې هم پروت دی دهیواد دمشهور مورخ سید محمد کاتب په نامه ونومول شي .او دګذرګاه او ده افغانانو ترمنځ واټ دې دچهاردهې واټ په نامه ونومول شي.

داقتصاد وزارت سرپرست، له ښار څخه خوندي ځای ته په نښه یې توکو دروړدو کسانو دراتلولو او دهغوی ددرملنې په باب دوزیرانو شورا دتصمیم د تعقیبولو په باره کې ، دوزیرانو شورا غونډې ته وویل : دموظفو وزارتونو له خوا یو هیئت دوزیرانو شورا له لارښوونې سره سم دروږدو کسانو دځای پرځای کولو لپاره د فینکس کمپ او دغه راز دمهاجرینو دچارو په وزارت پورې اړوند ښارګوټي وکتل او استول شوي هیئت دفینکس کمپ ددغه کمپ داوبو اوبریښنا دستونزې دحل کولو او دروږدو کسانو دځای پرځای کولو مناسب ځای پیژندلی دی.

داقتصاد وزارت سرپرست زیاته کړه دلیږدونې دطرحې دعملي کولو لپاره لازم تیاری ترلاس لاندې نیول شوي دی.

اجرائیه رییس دهیواد دوزارتونو او دمالیې وزارت ګډ هیئت ته لارښوونه وکړه چې دغه طرحه دې دیر ژر عملي او دهغې اجرا کیدو رپوټ دوزیرانو شورا ته وړاندې کړي. داقتصادوزارت سرپرست او دمالیې وزارت دغه راز دهوایي شرکتونو دستونزې په باره کې خپل رپوټونه وړاندې کړل او ددغې موضوع دحل کولو او ددغوشرکتونو دمالیاتو دورکړې دځېرنې په باره کې یې مشخص وړاندیزونه طرحه کړل او وپتیل شوه چې موضوع دې تر زیات بحث او دقت لاندې ونیول شي.

داجرائیه ریاست لومړی مرستیال انجنیر محمد خان په راروان ژمي کې دکابل دبریښنا دستونزې اودبریښنا دکمښت دمخنیوي دلارو چارو په باب خبرې وکړې او دحل تاکلې لاره یې پیشنهاد کړه.

داجرائیه ریاست لومړی مرستیال زیاته کړه، دکانونو او صنایعو وزارت په عالي کیفیت سره په کافي اندازه د ډبرو سکاره بازار ته وړاندې کړي دي او له دې پلوه به کومه ستونزه رامنځته نه شي ، په بازار کې به کافي اندازه تیل شته او په ژمي کې دتیلو بیه هم ثابته ساتل کیږي . خو دګازو په باب یوله ستونزې شته چې مسوول وزارتونه اوښتونه دبحران دمخنیوي لپاره دحل تاکلې لارې ترلاس لاندې لري او بشپړ رپوټ یې دوزیرانو شورا ته وړاندې کیږي .

دوزیرانو شورا داحتکار ، انحصار ، دبیو دلوړوالي دمخنیوي اودغه راز دازادي سیالۍ لپاره دزمینې دبرابرولو په مقصد پریکړه وکړه نور دځینو اشخاصواو شرکتونو له خوا دخوراکي توکو دواردولو انحصار رسمیت نه لري .او دمالیې وزارت مکلف دی چې دغه حکم دې په ګمرکاتو کې تطبیق کړي.

دغه راز دوزیرانو شورا پریکړه وکړه نور هیڅ سوداګر مکلف نه دی کوم شرکت یا شخص ته دخوراکي توکو دواردولو دانحصار دحق په نامه پیسې ورکړي .

دوزیرانو شورا له اجندا سره سم ، دافغانستان داسلامي جمهوریت اجرائیه رییس دمحرم الحرام او دعاشورا دمراسمو دپرځای کولو دامنیت په تامینولو کې دوسله وال پوځ په تیره بیا دپولیسو دهڅو او هاند او رول له امله قدرداني وکړه.

ورپسې دکورنیو چارو وزارت سرپرست دهیواد دامنیتي حالات په باب دوزیرانو شورا ته رپوټ وړاندې کړل.

محمد عمر داودزي زیاته کړه : دهیواد امنیتي حالت دتیر کال په پرتله دملي وحدت دحکومت په جوړیدو سره مخ په ښه والي دی .

دملي دفاع وزارت سرپرست دهیواد دامنیتي حالت په باب په خپل رپوټ کې وویل : دتیر کال په پرتله امنیتي حالات ښه والي موندلی دی ، دملي وحدت دحکومت په جوړیدو سره دملي اردو دځواکونو روحیه پیاوړې شوې ده. دهیواد په ځینو ولایتونو کې دامنیتي حالت دګډوډولو لپاره ددښمن هلې ځلې ناکامې شوې دي او دهیواد وسله وال ځواکونه دامنیت په ساتنه اوټینګښت کې ښه بریالیتوبونه لري .

له پروګرام سره سم دبهرنیو چارو وزارت سرپرست پانګې اچوونکو ، سوداګرواو نورو بهرنیو اتباعو ته دویزې دصادرولو لپاره داسانتیاو دبرابرولو په باب دکابینې او دوزیرانو شورا له پریکړې سره سم ددغه وزارت پیشنهادي طرحه په خوارلسو مادو کې وړاندې کړه چې په کمو بدلونونو سره دوزیرانو شورا دتایید ور وګرځیده.

اجرایه رییس دنوي قانون داجرا کیدو او دپانګې اچونې لپاره او دافغانستان داسلامي جمهوریت دسفارتونو او قونسلګریو په کچه افغانستان ته دسفر لپاره دلازمو اسانتیاو دبرابرولو په باب دبهرنیو چارو وزارت سرپرست ته لارښوونه وکړه.

له پروګرام سره سم وزارتونو ته لارښوونه وشوه چې د وزارتونو دسلاکارانو بشپړ فهرست دې دوزیرانو شورا دارالانشا ته ولیږي چې په راتلونکې غونډه کې دوزارتونو دکار په ښه والي کې دسلاکارانو داغیزمنتوب په باب خبرې او تصمیم ونیول شي.

عواید داخلی افغانستان، شش ...

در حالیکه این رقم در حین جنجالهای انتخابات ریاست جمهوری سه ملیارد بود:

" در ربع سوم هدف تعیین شده ما یازده ملیارد افغانی بود که در اویل ما توانستیم سه ملیارد افغانی را جمع آوری کنیم. درآمد های ما روبه افزایش است اما ازهدف خود بیست تا بیست وپنج فیصد عقب ماندیم، ولی بازهم یک چیزقابل اطمینان است که ما توانستیم چیزی درحدود شش ملیارد افغانی را جمع آوری کنیم. در ربع اخیر عواید ما افزایش پیدا می کند بخاطری که شرکت های حسابات خود را تصفیه میکنند وجوازها تمدید میشود."

پیش ازاین وزارت مالیه افغانستان گفته بود که طولانی شدن پروسه انتخابات و مشکلات ناشی از آن سبب شده تا بیست و یک ملیارد افغانی در بودجه انکشافی این کشور کاهش آید.

با این همه برخی از آگاهان مسایل اقتصادی افغان میگویند هرگاه حکومت جدید اراده قوی، درجهت مبارزه علیه فساد اداری داشته باشد تاثیرات خیلی مثبت درکوتاه مدت بالای اقتصاد این کشورخواهد داشت.

حکومت افغانستان به منظورجلوگیری ازکسربودجه انکشافی، خواهان ۵۳۷ میلیون دالر کمک ازسوی جامعه جهانی شده.

درهمین حال سخنگوی وزارت مالیه شایعاتی را مبنی براینکه حکومت افغانستان، توانایی پرداخت معاشات کارمندان دولتی را ندارد رد میکند.

آقای جیلانی میگوید که حکومت افغانستان تا پایان سال در این راستا، هیچ مشکلی نخواهد داشت ویا ارایه طرحی جدید که بودجه برای سه سال درنظر گرفته میشود مشکلات بودجه انکشافی حل خواهد شد.

درحال حاضر بودجه ملی افغانستان به ۴۲۸ میلیارد افغانی میرسد که ازآن جمله ۲۷۵ میلیارد بودجه عادی و ۱۴۸ میلیارد آن بودجه انکشافی می باشد.

د چین او افغانستان په سوداګری ...

په کابل کې خبریالانو ته وویل، د دې لارې په جوړولو سره به له چینه د افغان سوداګرو مالونه د اوس په پرتله اتیا فیصده په ارزانه بیه افغانستان ته راوړل شي:

ود یو کال یا ان په شپږو میاشتو کې دغه لاره جوړیدای شي، دغه لاره چین او افغانستان ته په اقتصادي لحاظ، خاص اهمیت لري، اوس چې له چین نه د سمندر په لارې یو کانټینر افغانستان ته راوړل کیږي له اوو زره نیولې تر لس زره ډالره مصرف پرې راځي، خو که دغه لاره جوړه شي نو په دوه زره ډالره به تمام شي، ناسې کولای شي په اقتصادي لحاظ دغه مقایسه کړی چې څومره اهمیت لري.

هغه زیاته کړه، د افغانستان او چین ترمنځ د مسوعینکو د کان په ترون کې یادونه شوې، چې چین به د دې کان خام مواد له همدې لارې خپل هیواد ته انتقالوي، چې له همدې امله یې تر یوه حد د چین په خاوره کې کارونه شوي دي.

د افغانستان د سوداګری او صنایعو خونې چارواکي وایي چین له امنیتي پلوه په دې برخه کې اندیښنې لري ، او وایي چې په جنوبي اسیا کې مخ په وده اسلامي تونډلاري به له دې لارې چین ته داخل شي.

د اقتصادي چارو کارپوهان وایي، د واخان لاره چین او افغانستان له سیاسي ، ټولنیز او اقتصادي پلوه زیات اهمیت لري.

ترکیه کې د بېړۍ ډوبېدو ...

هغه کې وې چې له یوې نه یوې لارې د اروپايي ټولنې غړو هیوادونو ته ځان ورسوي. دوې میاشتې وړاندې د کډوالو یوه بله بېړۍ چې ډبرې یې د سوریې او افغانستان وو د ترکیې د سمندري ځواکونو له خوا وژغورل شول.

پاکستاني پوځ پر کونړ ...

له کبله یې دوه تنه ټپیان شوي او یو کور هم ویجاړ شوی دی.

پر کونړ د پاکستاني ځواکونو د توغندویي بریدونو له پیل نه تراوسه ګڼو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتي او سلګونه کورنۍ د چلو سیمو پرېښودو ته اړ شوي دي.